# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



احمدشاه وردگ - کابل


۱۹ سپتمبر ۲۰۱۱ لیکنه

# بایلل شوی لوبه

## د رزاق مامون لیکنی ته یوه ځغلنده کتنه

بایلل شوی لوبه دهغی مقالی سرلیک دی چی دافغانستان د روان کړکیچ په هکله ښاغلی رزاق مامون په خپله ویب پانه«چشم انداز» کی خپره کړی ده. لیکونکی پخپله لیکنه کی دوو مهمو ټکو ته اشاره کړی چی زماپام یی هم ځانته راواړاوه: مامون په خپله لیکنه کی په هیواد دامریکا اوناټودیرغل سره دایران دړژیم ځارګریزواولوژیستیکی مرستو اوسرښوروني په ډاګه کړی اوهمدارنګه یی په روانه سیاسی لوبه«غمیزه» کی دتنظیمی ډلوټپلو ناوړه لاس وهنو ته ګوته نیولی اونوموړی ټکی یی داوسنی بحران علتونه بللی دی. دلیکوال له دی دواړو ټکو سره زه په کامله توګه موافق یم اوداخبره له شکه وتلی چی دهیواد په روانه غمیزه اوپخوانیو ناورینونو کی دغودوو علتونو خپل شوم رول لوبولی ولی دافغانستان دغمیزی اصلی اوټاکونکی عامل "دامریکا اوناټولخوا دهیواد اشغال" دی چی لیکوال له پامه غورځولی. اودغه ټکی ته یی لکه د نوروپییل شویومزدورو لیکوالانوپه څیر د" نړیوالی ټولنی دمرستی" نوم ورکړی دی. له دی هم خورا ډیر مهم اوارزښتناک عامل په دغه ناورین کی له اوسنی واکمنی سره د" ولسونونه ملاتړاوپریکړون " دی. چی هغه ته هم دده په لیکنه کی هیڅ ډول اشاره نه ده شوی.. لیکوال په خپله لیکنه کی دکړکیچ دحل لاروچاروته هم ګوته نیولی اوهغه یی ددوهم نسل ځوانانو په راټولیدواودحاکم ټیم په لیری کیدو پوری تړلی کوم چی دبهرنیو نیواک ګرو په شتون کی هیڅکله هم نشی بریالی کیدای.له دی ټولو سره سره نوموړی لیکنه دسلګونو نورو لیکنو په منځ کی یوڅه واقیعتونو ته اشاره کړی اودکابلیانو ورونو په خبره (ازخانه هندو هم حلوا برآمد) نوځکه می ددی لیکنی دځینو برخو ژباړی ته متی راونغښتی. رزاق مامون خپله لیکنه داسی پیلوی:

" افغانستان دامریکا لخوا ډیر په تیټه بیه اوپرته له سرخوږی "فتح؟؟؟" شو. دلودیځ اطلاعاتی سرچینی په ډاګه وایی چی زمونږ بری په افغانستان کی د خاتمی د وخت د ایران د حکومت په مرسته ترسره شو، په کوم کی چی ایرانی چاراوکو هیله درلوده چی پرطالبانو دامریکی دبری وروسته به ددوی د دغه" دښیګنی د نیت" بیته وروسته ورکړل شی. په دی توګه دایران رژیم دطالبانو دپرځیدو په لومړیو کی د" سپتامبر دیوولسمی دتوفان " څخه په تیښته بریالی شو. دایران دښیګنی دنیت بیه هم څه ناڅه پخپله ورکړل شوه اوهغه ددوی په ګاونډ کی ددوی ددښمن

حکومت(طالبانو) راپرزیدل و، ولی ددوی هیلی چی دامریکا څخه به ددی چوپړ په بدل ډیر نورامتیازات ترلاسه کړی له خاوروسره برابر شول.
په تهران کی چاروا کی په دی هیله و چی امریکا به ددوی دڅارنیزو اونفوذی(اغیزمنو) مرستوچی داشغال په لړکی یی دامریکایی پوځونو سره کړی وی،دایران پروړاندی نړیوال بندیزونه لیری کړی او همدارنګه به په راتلونکی کی پرایران دامریکا دمحتمل برید مخه ونیسی! دپیښو پرمختګ په ډاګه کړه چی دایران داکړنی دیوی بایلل شوی جواری (قمار) نه بل څه نه و. له لومړیو ورځو داروښانه وه چی "دطالبانو ضد ایتلاف" دنړیوالی ټولنی؟ لپاره دطالبانو پرځای یو انتخاب نه و، دادپردو شاته معاملی وی چی دسپتامبر دیوولسمی وروسته پیښوته یی پیچیلتیا ورکړه.
دزمانی په تیریدوسره دایران ناهیلی له امریکا څخه ددغه هیواد دبرید په ویره بدلی شوی، دامریکا اوایران دمخامخ کیدواغیزی دافغانستان دننه ته هم خپری شوی. ایران دپولو نه دباندی د " له پیښی مخکی مړیو" په راغونډولو پسی متی راونغاښتی اودکرزی-فهیم-خلیلی دواک غزول یی دیوه واقیعت په توګه واړول کوم چی دغرب لخوا دکابل-تهران د لومړی ګذارپه توګه انګیرل کیږی.
دتروریزم پروړاندی دلودیځ دنه روښانه دریځ اواقتصادی پرمختګ ته دهغوی دژمنتیا دروغجنوالی دکرزی-فهیم-خلیلی دایتلاف سره به ذهنی توګه مرسته وکړه اودی ایتلاف ته یی په یوه بایلل شوی لوبه کی دبیاګډون هیلی په لاس ورکړی. په یقین سره نشوویلای چی لودیځوالو همداسی غوښتل اوکه نه؟ ولی په زغرده ویلای شو چی دکرزی او تنظیمونو ترمنځ نوی پیوستون دلودیځ دکړیولپاره دوړاندوینی وړنه وو.
ددی احتمال شته دی چی امریکا اوددوی لودیځوال ملاتړی یوځل بیا دپاکستان-طالبان-عربستان لاره خپله کړی په کومه لوبه کی به چی دطالبانو ضد ایتلاف اصلی بایلونکی وی. هغه ایتلاف چی تراوسه یی ونکړای شول دیوه ایتلاف څیره خپله کړی اوپه بیره په تنظیمی ضلعو باندی وویشل شو او دنړیوالی ټولنی سره په یوه خوله نه شول. په دی ایتلاف کی ګډی شوی ډلی په اوسنی بحران کی په ډیر حساس دریځ کی پراته دی او دسیاسی نابودی خواته ډیره لږه لار ورپاتی ده.

## ویښوونکی زنګ ټول اوری

فرصتونه دزمانی په تیریدو له لاسه وځی. اصلی پوښتنه داده چی ددی فرصتونودلاسه وتلو څخه وروسته به څه پیښ شی؟
په افغانستان کی دچارو واکدارانو ته سختی ورځی په مخ کی پرتی دی. دجمهوررییس مرستیال دغه چاپیریال د" حساسی وضع" په نامه یادکړ. دحکومت نژدی مرسته کوونکی سیاف دغه وضع دمجاهدینو لپاره هینوونکی وبلله او وویل"دمجاهدینو بیړی کړه وړه روانه ده اوداوښتو ویره یی ډیره ده". تنظیمی مشران ترهروخت ډیر دخپل موقعیت په هکله اندیښمن دی. د"امریکایی پوځونو دوتلو!" ویره دکرزی ملاتړو مارشال فهیم، حاجی محمد محقق اوعبدالرب رسول سیاف دلومړی ځل لپاره داحمدشاه مسعود دمړینی په لسم تلین کی په ډاګه کړه. نوی سیاسی چاپریال دایران هغه پانګونه چی دامریکا په مقابل کی یی دکرزی دواکمنی په دننه کی کړی وی له کلکو ننګونو سره مخ کړی ده.
دلومړی ځل لپاره چی ولسمشر کرزی بهرنی پوځونه " نیواکګر " وبلل دروان کال دثور میاشت وه. ددینه ترمخه هم کرزی څو څو ځله دامریکا اوپه کابل کی دهغی دسفارت پروړاندی دتوری څوکه نیغه کړی وه.ولسمشردامریکا

سره دخپلوناااعلان شویو ستونزو په ترڅ کی دطالبانودبریدونو دسازمان ورکوونکی جنرال حمید ګل په پله دهغه څه سره چی ده ورته " ملی مقاومت" وویل، خپل پیوستون په ډاګه کړ.....

## په پایله کی دوینو کڅوره وچاوده

په پایله کی تولی وړاندوینی سره ګډی وډی شوی داقتصادی ګواښونو اوتروریزم بوی په ښارونو کی دچارواکواودهغو دتنظیمی ملګرو پوزو ته ورسید. مارشال فهیم دستونزی حل د" ثلیقه ای کشمکشونو" څخه په راوتلو کی چی د" ملی زعامت" په مخ کی خنډ دی، لټوی. دده دخبرو څوکه داکتر عبدالله ته متوجه چی که چیری نوموړی اودده په شااوخوااټول شوی سیاسیون دواکنی سره یوشی نو ستونزی به له منځه لاړی شی اوملی زعامت به رامنځ ته شی....

فهیم ، خلیلی، سیاف، ربانی اومحقق اوس په یوه پریکنده حساسه مرحله کی واقع شوی دی. دغه موقیعت په یوه دوه لاری کی دانتخاب(غوره کولو) موقیعت نه دی، بلکه د بن بست یوه دایره ده چی دوی په کی بند پاتی دی چیرته چی دیوی نوی معاملی لپاره د بیرته ګرځیدواوانعطاف سیمه ډیره تنګه ده. اوس اوس دوی دامریکا پروړاندی دکرزی دتندو خبرو څخه ځانونه ګوښه کوی. دا ددموکراسی خواته ددوی یوه تروخت تیره تښتیدنه ده. معامله په بل ځای کی شتون لری.معامله ددغو چارواکوترشا دکوموچی لادوخته دمصرف نیته دولس پروړاندی پوره شوی، دترسره کیدو په حال کی ده.

"تنظیمونه" ملی اویا مدنی بنسټونه نه دی، دوی دقومونو پوځی ځانګی، اودجګړی دوخت دکارپوهانو دنظریاتو ښکارندوی دی. دواک په سرکی چارواکو اوس دطالبانو پروړاندی خپله توله دلاسه ورکړی. دسولی خیالی شورا دړنګیدو په درشل کی ده اوټولیزه ویره له دی څخه ده چی هرڅه به لومړی ټکی (صفر)ته وګرځی، اونړیواله ټولنه ددی ټولو ننداره کوی. په داسی حال کی چی دطالبانو فدایی بریدونه دمخنیوی(دفاع) څخه وتلی، دخلکو ویره چی په تیرو لسو کلنو کی یی په واکمنی اودنړیوالی ټولنی په وعدو پوری زړونه تړلی و، نوره هم ډیره شوی. خلک " دټولوپروړاندی دټولودجګړی" دسیوری، موقتو ایتلافونو،موقتو دښمنیو،هره ګړی جګړی څخه په ویره کی دی.

کورنی لاملونه

په انتخاباتی توګه حکومت د"مشروعیت" له بحران سره مخ دی، اقتصادی اوسیاسی بحران هم دمشروعیت له بحران څخه سرچینه اخلی. امنیتی بحران هم دواکمنی په هغو ناکامو سیاستونو پوری تړل شوی چی په سیاسی، اقتصادی اوټولنیزو چاروکی یی په لاره اچولی دی..... دبحران ښپی نوری هم پورته کیږی. د" بدلون اوهیلو" دایتلاف اویا دواکمنی سره دنورو ځوانانو یوځای کیدل دی غمیزی ته پای نشی ورکولای. فهیم اوس هم دی ته لیواله دی چی ملی بحران پرته د(ملی پوهاوی) دمیلمستیاوو په دسترخوان حل کړی. بحران ډیر پیچلی شوی. په واکمنی کی دننه کړی دامریکا، پاکستان، ایران اونورو سره اړیکی لری. داهماغه څه دی چی فهیم یی " کشمکش های ثلیقه ای" نوموی.....

طالبانو دپاکستان په مرسته ددی اړدوړ څخه په ګټه اخیستنه په کورنی اونړیواله سطحه دابتکار عمل په لاس کی اخیستی. عمومی بن بست، دلوړپوړوحکومتی اوتنظیمی چارواکوښکارکول، دحکومت اوتنظیمونو دویری اووحشت سبب ګرځیدلی.....

تنظیمی مشران عادت لری چی کله ددوی واکمنی ته کوم ګواښ متوجه شی نو دوی دنویو ایتلافونو په جوړولو لاس پوری کوی . ددوی لپاره دپخوا په شان دنویو ایتلافونو دجوړولو وخت بیا رارسیدلی دی. ددوی لپاره دایتلافونو

جوړول کوم ستونزمن کارنه دی ولی داخل بحران بل ډول دی اوددوی دنویو ایتلافونو څخه دژغورنی کومه نسخه نشی راوتی. یو اساسی ټکی دادی چی دوی ایتلاف جوړونکی په دی هیله دی چی د اوسنیو حساسو شرایطوحل د" جبهو" جوړونو په پخوانی فورمول اوزړو محاسبو سره حل اوفصل کړی. دستونزی اصلی علت په دی کی دی چی تنظیمی ایتلاف جوړونکی دنړیوال ایتلاف په مخ کی ولاړدی......

دحل دلارو بیا لیکنه

په اوسنیو ناوړو شرایطوکی چی فرصتونه دله منځه تلو په حال کی دی، دحل لاری چاری بیا هم شته، په داسی حال کی چی تنظیمی مشرانو دپرګنو په منځ کی خپل ملاتړ له لاسه ورکړی، ددی لارو پلی کول ددوی لپاره که ناممکن نه وی نو ورانونکی به خامخاوی. دشاعر په قول" خانه ازپای بست ویران است" یو نوی پیل، له صفری ټکی څخه داوسنی حاکم ټیم دله منځه وړلو پرته ناشونی کاردی، رژیم دخپلو تنظیمی انډیوالانو په مرسته ددی تیوری سخت مخالفت کوی. دافغانستان خلک اونړیواله ټولنه دهغو خیانتونو او فساد واکی په سپړلو پسی ده چی دلسوکلنو لاس ته راوړنی یی پیکه کړی دی.

خاینو اوقانون ماتونکو عناصرو چی ملی شتمنی یی لوټ کړی، محاکمه کول دنړیوالی ټولنی ترڅارنی لاندی پلی کیدای شی. په کورنی کچه ددی لپاره ذهنونه آماده دی. ولی شک په دی کی دی چی آیا نړیواله ټولنه؟ دی ته لیواله ده چی دافغانستان دخلکو سره په دی کارکی مرسته وکړی؟ یوه بله مهمه خبره دتنظیمی ډلو دمشرانو پریکړون دایران او پاکستان څخه دی. دادواړه ملکونه دهیواد سیاسی اوکدری پوړونو ته دخپلو ګوډاګیانو پرځای دهرډول ځوانو مدیرانو دراتګ مخنیوی کوی....

پای